**دافغانستان اسلامی امارت**

**دارشاد حج و اوقافو وزارت**

**دمجمع علمی ریاست**

**د افتاء آمریت**

شماره ............... تاریخ / / ۱۴۰۰

د محمد یوسف داستفتاء متن !
د امارت اسلامی د ارشاد، حج او اوقافو وزارت مشرتابه ته!
دمجمع علمي دمحترم ریاست د پام وړ!
دقدر وړه!
په ځیني کلیوالي سیمو کې دوه کورني په داسې ډول خپل منځ کې په دوستي توافق کوي، چې زما لورستا د زوی شوه اوستا لور زما د زوی شوه اوهیڅ یوې ته مهر نه ټاکي. ځیني خلک وایې، چې نکاح صورت نه دی موندلای، بلکې اولادونه یې حرامیان دي.
که د شریعت له نظره ځواب راکړئ، ډیره مهرباني به مو وي (وجزاکم الله خیر الجزاء).
د ریاست کتنه اوحکم: (دإفتاء آمریت! په دې اړه لازم اجرآت ترسره کړئ) .
دإفتاء آمریت ګومارنه: (محترم مولوی عبدالستار (خادم ) دې د موضوع اړوند شرعي مالومات ورکړي).

الجواب باسم ملهم الصواب
حامدا لله ومصليا على رسول الله

محترم مستفتي صاحب!
د پورتنی موضوع په رابطه باید وویل شي، چې: دا ډول دوستي ته په شریعت کې (شغار) ویل کیږي او ورڅخه په حدیث شریف کې ممانعت راغلی. خو که بیا هم داسې کړنه ترسره شوې وي، نکاح صورت موندلای، دواړه نجلی او هلک یو د بل خاوند او میرمن دي، اولادونه یې هم خپل حلالي اولادونه دي. البته خاوند باندې د نجلی مهر مثل لازم شوی، چې ترڅو یې ورته ادا نه کړي، غاړه یې نه خلاصیږي.
خو غوره دا ده، چې یو څوک خپله خور یا لور بل کس ته او د همغه خور یا لور خپل ورور یا زوی ته، تولنه کې د عامي دودیزې طریقې له مخې، په داسې ډول ورکړي، چې د هرې یوې لپاره جلا جلا مهر وټاکي، په دې صورت کې دا شغار نه بلل کیږي، بلکې ظاهرًا بدل حقیقتًا نکاح ده، شرعًا هیڅ ستونزه نه لري.

**والدليل على ما قلناه:**
**(۱) (عن نافع عن ابن عمر رضى الله عنهما: أن النبي صلى الله عليه و سلم نهى عن الشغار)**
**(سنن الترمذی ۳ توک، ۳۳۴ مخ- طبع بیروت).**

**(٢) (وإذا زوج الرجل بنته على أن يزوجه الآخر بنته أو أخته ليكون أحد العقدين عوضا عن الآخر فالعقدان جائزان ولكل واحدة منهما مهر مثلها) (الهداية ٢ توک، ٣٠٧ مخ – طبع کوئته).**

**(٣) (نِكَاحُ الشِّغَارِ وهو أَنْ يُزَوِّجَ الرَّجُلُ أُخْتَهُ لِآخَرَ على أَنْ يُزَوِّجَهُ الْآخَرُ أُخْتَهُ أو يُزَوِّجَهُ ابْنَتَهُ أو يُزَوِّجَهُ أَمَتَهُ وَهَذِهِ التَّسْمِيَةُ فَاسِدَةٌ لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا جَعَلَ بُضْعَ كل وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا مَهْرَ الْأُخْرَى وَالْبُضْعُ ليس بِمَالٍ فَفَسَدَتْ التسيمة وَلِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا مَهْرُ الْمِثْلِ لِمَا قُلْنَا وَالنِّكَاحُ صَحِيحٌ عِنْدَنَا) (بدایع الصنایع ٢ توک، ٢٧٨ مخ - طبع بیروت).**

**(٤) إنَّ نِكَاحَ الشِّغَارِ مُنْعَقِدٌ وَالشَّرْطُ بَاطِلٌ وَلِكُلِّ وَاحِدَةٍ من الْمَرْأَتَيْنِ مَهْرُ مِثْلِهَا وهو أَنْ يُزَوِّجَ الرَّجُلُ ابْنَتَهُ على أَنْ يُزَوِّجَهُ الزَّوْجُ أُخْتَهُ أو أَمَّهُ على أَنْ يَكُونَ بُضْعَ كل وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا صَدَاقُ الْأُخْرَى)** الهندیه ١ توک ٣٠٣ مخ – طبع بیروت).

**.(٥) (ثم حكم هذا العقد(أی الشغار) عندنا صحته وفساد التسمية فيجب فيه مهر المثل) فتح القدير، ٣ توک ٣٣٨ مخ – طبع بیروت).**

والله أعلم بالصواب

مولوی عبدالستار (خادم)